شريعت

ورځپاڼه

د افغانستان اسلامي امارت مرکزي نشراتي ارګان

د تأسیس کال ۱۳۷۴ هـ.ش / دوهم پړاو ۱۱۰۷ ګڼه / چهارشنبه د محرم‌الحرام ۲۹مه ۱۴۴۸هـ.ق / د چنګاښ ۲٤مه ۱۴۰۵ هـ.ش / د جولای ۱۵مه ۲۰۲٦ میلادي

هند له افغانستان سره د سوداګریزو خنډونو د هوارولو او د اړیکو پراخولو هوډ تازه کړ

د افغانستان او هند د بهرنیو چارو د وزارتونو ترمنځ د ګډې کمېټې څلورمه غونډه د هند د بهرنیو چارو وزارت کې د دواړو هېوادونو د استازو په مشرۍ ترسره شوه. د افغانستان د بهرنیو چارو وزارت د خبرپاڼې له مخې، په دې غونډه کې د افغانستان د بهرنیو چارو وزارت لومړي سیاسي رئیس شعیب بریالي او د هند د بهرنیو چارو وزارت د پاکستان، افغانستان او ایران د چارو رئیس انند پرکاش ګډون او مشري کوله. په غونډه کې د دواړو هېوادونو د سیاسي او اقتصادي همکاریو د پراختیا، د ویزو د اسانتیا، سوداګریزو ستونزو او د صادراتو او وارداتو د پیاوړتیا په اړه هر اړخیز بحثونه وشول. دواړو لورو ټینګار وکړ، چې د متقابلو همکاریو د پراخولو او د سوداګریزو اړیکو د ودې لپاره به ګډې هڅې دوام وکړي.

د سیمې له هېوادونو سره د ٤٤٦٫٦ میلیونو افغانیو په ارزښت هوکړه‌لیکونه لاسلیک شول

د افغانستان د سوداګرۍ او پانګونې خونې ویلي، چې د افغانستان، د روسیې د داغستان او تیومن سیمو او قزاقستان د سوداګریزو پلاویو ترمنځ د سوداګرۍ د مستقیمو غونډو په پایله کې د ۴۴۶.۶ میلیونو افغانیو په ارزښت سوداګریز تړونونه لاسلیک شوي دي. د یادې خونې په وینا، دغه تړونونه د ودانیزو توکو، درملو، خوراکي توکو او کرنیزو خدمتونو برخې رانغاړي او موخه یې د سوداګریزو اړیکو پراخول، پانګونې ته وده ورکول او د سیمې د خصوصي سکتور ترمنځ د اوږدمهالو اقتصادي همکاریو پیاوړتیا ده. د سوداګرۍ او پانګونې خونه زیاتوي، چې دا تړونونه به د افغانستان او د سیمې د هېوادونو ترمنځ د اقتصادي همکاریو د پراختیا، د سوداګرۍ کچې د لوړولو او د پانګونې د نویو فرصتونو په رامنځته کولو کې مهم رول ولوبوي.

تحقیقات تازه از رفتار غیرانسانی عساکر بریتانیا در دوره اشغال افغانستان پرده برداشته است

شماری از نظامیان پیشین بریتانیا در جریان تحقیقات رسمی درباره عملکرد نیروهای ویژه این کشور در افغانستان از کشتار غیرنظامیان افغان وبدرفتاری با زندانیان پرده برداشته‌اند. رسانه‌های بریتانیایی خبر داده‌اند که غیرقانونی با شهروندان افغان و زندانیان بوده است. این نظامی که هویت او فاش نشده گفته که از سکوت و تأخیر در افشای این موارد احساس پشیمانی می‌کند. او افزوده که برخی از نیروهای بریتانیایی با

یکی از نظامیان پیشین ارتش بریتانیا در این تحقیقات از رویدادهای سخن گفته که به گفته او شامل رفتارهای زندانیان افغان رفتار تحقیرآمیز داشته و در مواردی برای سرگرمی و تفریح آنان را از موترهای باربری ... ص۳

ګڼ شمېر هېوادوالو او صنعتکارانو د مالیاتي اسانتیاوو هرکلی وکړ

د هېواد ګڼ شمېر صنعتکارانو او هېوادوالو د اسلامي امارت له لوري د نویو مالیاتي تخفیفونو هرکلی کړی او ویلي یې دي، چې

دغه اقدام به د تولید، پانګونې او اقتصادي ودې لپاره مثبتې پایلې ولري. صنعتکارانو ویلي: دغه پرېکړه د تولیدوونکو د ستونزو په کمولو، د پانګوالو د لېوالتیا په زیاتېدو او د کورنیو تولیداتو په پیاوړتیا کې مهم رول لوبولی شي. دوی همداراز د تولیدي لګښتونو د راکمولو، برېښنا او خامو موادو ته د اسانه لاسرسي او له کورنیو تولیداتو د لا ډېر ملاتړ غوښتنه کړې ده.

تېر کال له افغانستان څخه نږدې ۳۰۰ زره ټنه تازه مېوه بهر ته صادره شوې

د صنعت او سوداګرۍ وزارت وايي: افغانستان تېر کال شاوخوا ۲۹۰ زره ټنه تازه مېوه نورو هېوادونو ته صادره کړې ده. د یاد وزارت د معلوماتو له مخې: د دغو صادراتو ارزښت ۱۴۱ میلیونه امریکایي ډالرو ته رسېږي چې هند، قطر، عربي اماراتو، منځنۍ اسیا، روسیې او اروپا ته لېږدول شوې ده. مني د ۴۴ میلیونو ډالرو په ارزښت د تازه مېوو د صادراتو په سر کې دي، ورپسې انګور او انار ځای لري. سوداګر وايي: د

پاکستان پر ځای اوس افغان مېوې نورو نړیوالو بازارونو ته صادرېږي. هرات کې هم چارواکي وايي، چې د روان کال په لومړیو درېیو میاشتو کې له دغه ولایت څخه ۵۳ زره ټنه توکي بهر ته صادر شوي دي.

حمایت از کودکان یتیم و بی‌سرپرست در کنر

وزارت کار و امور اجتماعی، برای ۲۰۰ کودک یتیم و بی‌سرپرست در پرورشگاه مرکزی اسعدآباد ولایت کنر، به ارزش ۱۲۰ هزار افغانی قرطاسیه توزیع کرد. وزارت کار و امور اجتماعی با نشر این خبر گفته است که در مراسم توزیع، مولوی فریدالله حقانی، رئیس کار و امور اجتماعی ولایت کنر، ضمن قدردانی از همکاری موسسه خیریه اکشن‌اید، گفته‌است که ... ص۳

سرمقاله

مالیاتي اسانتیاوې د اقتصادي ودې او پانګونې لپاره نوی فرصت!

که په نړیواله کچه فکر وشي اقتصادي ثبات د هر ځواکمن دولت د ودې، ځان بسیاینې او دوامدار پرمختګ مهم بنسټ ګڼل کېږي. هغه حکومتونه چې د مالي سرچینو د مدیریت ترڅنګ د خصوصي سکتور د پیاوړتیا، د پانګونې د ودې او د تولید د زیاتوالي لپاره اغېزناکې تګلارې غوره کوي، د اقتصادي پرمختګ ترڅنګ د ټولنې د سوکالۍ او هوساینې زمینه هم برابروي.

له دې جملې یو هم اسلامي امارت دی، چې پر افغانستان د بیا واکمنۍ له پیل راهیسې تر ننه پورې یې هڅه کړې او کوي یې، چې د عدالت، شفافیت او متوازن اقتصادي سیاست له لارې داسې مالي چاپېریال رامنځته کړي، چې هم د دولت مالي بنسټونه پیاوړي کړي او هم د پانګوالو، صنعتکارانو او تولیدوونکو لپاره د فعالیت مناسب فرصتونه برابر شي.

په همدې لړ کې وروستي مالیاتي تخفیفونه د اسلامي امارت د اقتصادي اصلاحاتو د دوام یوه مهمه برخه ګڼل کېږي، چې د هېواد د اقتصادي ودې لپاره به پراخې مثبتې اغېزې ولري. له همدې امله د اسلامي امارت له لوري د نویو مالیاتي تخفیفونو اعلان د هېواد په کچه د صنعتکارانو، سوداګرو او عامو هېوادوالو له پراخ هرکلي سره مخ شوی دی.

د خصوصي سکتور استازي دا پرېکړه د هېواد د اقتصادي اصلاحاتو په لړ کې یو پر ځای او اغېزناک ګام بولي او ټینګار کوي، چې د مالیاتي بار کمېدل به د تولیدي بنسټونو د فعالیتونو د پراختیا، د پانګونې د کچې د لوړېدو او د کورنیو تولیداتو د سیالۍ د پیاوړتیا لپاره مناسب فرصتونه رامنځته کړي.

د دوی په باور، د داسې هڅو دوام به نه یوازې د خصوصي سکتور باور نور هم پیاوړی کړي، بلکې د اقتصادي ودې، د کارموندنې د فرصتونو د زیاتوالي او د ملي اقتصاد د پیاوړتیا لپاره به هم عملي زمینه برابره کړي.

د عالیقدر امیرالمؤمنین «حفظه الله تعالی» د حکم له مخې په دې وروستیو کې په څلورو مهمو برخو کې نوي مالیاتي تخفیفونه نافذ شول، چې حکمي ... ۳مخ

د دښمن پلوو رسنیو د بې‌بنسټه شایعاتو منفي اغېزې

۲مخ

بیش از سه هزار قیراط زمرد به‌گونه قانونمند به فروش رسید

محصول زمرد پنجشیر که در رژیم گذشته عواید آن در اختیار افراد و شبکه‌های خاص قرار داشت، اکنون با حاکمیت امارت اسلامی افغانستان و مدیریت اداره محلی امارتی پنجشیر، از طریق مزایده‌های شفاف و قانونمند به فروش می‌رسد. سیف‌الدین لټون، سخنگوی مقام ولایت پنجشیر، گفت که در تازه‌ترین مزایده، دیروز ۳۰۹۵ قیراط زمرد در ... ص۳

یک مسجد جامع جدید در پروان به بهره‌برداری سپرده شد

مسجد جامع حضرت خالد بن ولید (رض) در قریه خواجه‌خیل خلازیی مرکز ولایت پروان، طی مراسمی افتتاح و به بهره‌برداری سپرده شد. در این مراسم، مولوی دادمحمد بتار، رئیس ارشاد، حج و اوقاف پروان گفته‌است که این مسجد با همکاری موسسه قمر و با هزینه ۷۰۰ هزار افغانی اعمار شده است و ظرفیت پذیرش حدود ۱۵۰ نمازگزار را دارد.

د اف‌پې (AfPay) بانکي کارت چوپړتیاوې پراخېږي

شریعت: د افغانستان بانک وایي: د برېښنایي بانکوالۍ د پراختیا لپاره یې د اف پې کارت فعال کړی، یو شمېر ځایونو کې ترې ګټه اخیستل کېږي او په نږدې راتلونکي کې به د دې کارت له لارې د پاسپورټ، تذکرو او یو شمېر نورو برخو د چوپړتیاوو فیسونه هم ورکړل شي. د افغانستان بانک ویاند حسیب الله نوري شریعت ورځپاڼې ته وویل: «د افغانستان بانک هڅه

کړې چې هېوادوالو ته په مالي او بانکي چارو کې لازمې آسانتیاوې برابرې او د خوندي او چټکو بانکي ... ۳مخ

د پنځو مېرمنو د جبري ودونو مخنیوی وشو

د هېواد د امربالمعروف، نهي عن المنکر او شکایتونو اورېدلو وزارت خبر ورکړی، چې محتسبینو یې په بېلابېلو ولایتونو کې ۵ مېرمنې له جبري نکاح څخه ژغورلې دي. سرچینې په یوه خبرپاڼه کې لیکلي، چې د امربالمعروف، نهي عن المنکر او شکایتونو اورېدلو وزارت اړوند د پکتیا، میدان وردګو، غور او بلخ ولایتونو محتسبینو پنځه مېرمنې، چې کورنیو یې غوښتل د زیاتو پیسو او ناوړه دودونو له امله یې د دوی له خوښې پرته په نکاح ورکړي وژغورلې. د خبرپاڼې د

معلوماتو له مخې، یادې مېرمنې، چې د ناوړو دودونو او زیاتو پیسو په بدل کې د دوی له خوښې پرته په نکاح ورکول کېدلې؛ وروسته له هغه یې د نکاح مخه ونیول شوه، چې د یادو ولایتونو د امربالمعروف ریاستونو ته د قضیو د حل په موخه عارضې شوې. د یادولو وړ ده، چې د یاد وزارت محتسبینو له دې وړاندې هم د ګڼ شمېر مېرمنو د جبري نکاح مخه نیولې وه.

پروان کې زړګونه کاله پخوانۍ «کافر کلا» په تاریخي ابداتو کې ثبت شوه

د اطلاعاتو او فرهنګ وزارت خبر ورکړی، چې د پروان د اطلاعاتو او فرهنګ ریاست په هڅو د سیاګرد (غوربند) ولسوالۍ په فرنجل سیمه کې یوه لرغونې تاریخي سیمه چې د کافر کلا په نامه یادېږي او ... ۳مخ

پر دولت او ملت د مالي فساد ناوړه اغېزې

مولوي نورالحق مظهري

مالي فساد د دولت، اقتصاد او ټولنې له سترو ستونزو څخه ګڼل کېږي. مالي فساد هغه مهال رامنځته کېږي چې دولتي چارواکي، کارکوونکي یا نور مسئول کسان د شخصي ګټو لپاره له خپل صلاحیت څخه ناوړه استفاده وکړي؛ لکه رشوت، اختلاس، د دولتي شتمنیو غلا، په قراردادونو کې درغلۍ، د مالیاتو غبن او نوري ناقانونه کړنې. دا پدیده نه یوازې د دولت مالي بنسټونه کمزوري کوي، بلکې د خلکو باور، عدالت او په هر اړخیز ډول د هېواد پرمختګ هم له جدي خطر سره مخ کوي.

مالي فساد له ځان سره ډېر تاوانونه لري چې موږ یې د بېلګې په ډول یو څو په لاندې ډول ذکر کوو:

۱- د دولت د عوایدو کمېدل: مالي فساد د دولت د عوایدو د کمېدو له ټولو لوی لامل دی. کله چې مالیه راټولوونکي، ګمرکي مسئولین یا نور مالي کارکوونکي رشوت اخلي او یا د دولت عواید شخصي جېبونو ته اچوي، نو د دولت خزانې ته لږې پیسې رسېږي. د عوایدو کمښت د دې سبب کېږي چې دولت د عامه خدمتونو د وړاندې کولو توان له لاسه ورکړي، لکه د کابل اداري په وخت کې چې دولت یوازې پر بهرنیو تمویلاتو اتکاء درلوده ځکه چې داخلي عواید یې د مالي فساد له امله ډېر کمزوري وو.

۲ - د عمومي بودیجې ضایع کېدل: هغه بودیجه چې باید د ښوونځیو، پوهنتونونو، روغتونونو، سړکونو، اوبو رسولو او نورو عامه پروژو لپاره ولګول شي، د فساد له امله ضایع کېږي. په پایله کې پروژې نیمګړې پاتې کېږي، یا په ټیټ کیفیت ترسره کېږي او یا هم یوازې په اسنادو کې موجودې وي چې د دې لپاره لویه بېلګه د کابل شل کلنه اداره وه، د دې پر ځای چې عمومي بودیجه په هېواد کې پر انکشافي او پرمختیایي پروژو ولګېږي یا خو ضایع کېدله او یا هم پروژې په ډېر ټیټ کیفیت تر سره کېدلې چې همدا اوس په ښارونو کې د کابل اداري له وخت څخه جوړ شوي سړکونه خرابېږي او بېرته له سره جوړېږي، ځکه چې کیفیت یې ضعیف و.

۳- د اقتصادي ودې مخنیوی: مالي فساد پانګه اچوونکي زړه نازړه کوي. داخلي او بهرني پانګه اچوونکي په هغه هېواد کې پانګونه نه غواړي چې هلته رشوت، واسطه او اداري فساد زیات وي. د پانګونې په کمېدو سره تولید، صنعت، تجارت، د کار فرصتونه او اقتصادي وده هم کمزوري کېږي ځکه چې د مالي فساد په شتون کې پانګه اچوونکي خلک له ډېرو ستونزو سره مخامخ کېږي او لویه ستونزه له دوی څخه د مسئولینو شخصي غوښتنې او فرمایشونه دي چې په سبب یې دوی له پانګې اچونې څخه تېښتې ته مجبورېږي.

۴- د بېوزلۍ او بېکارۍ زیاتوالی: کله چې د دولت شتمني د څو کسانو په لاس کې ولوېږي او عامه پروژې په سمه توګه پلې نه شي یا عامو وګړو ته د کار زمینه برابره نه شي، نو د خلکو لپاره د کار فرصتونه کمېږي چې ورسره فقر زیاتېږي او په ژوند کې اقتصادي ستونزې را پیدا کېږي.

۵- د خلکو د باور له منځه تلل: که خلک وویني چې قانون یوازې پر کمزورو تطبیقېږي او زورواکي یا فاسد کسان له سزا څخه ژغورل کېږي یا کاري او مالي فرصتونه یوازې محدودو کسانو ته برابرېږي او یا هم له خلکو څخه غیر قانوني پیسې اخیستل کېږي، نو د دولت پر عدالت یې باور کمېږي او دا یقیني خبره ده چې د خلکو او دولت ترمنځ د اعتماد کمښت د ټولنیز ثبات لپاره ستر ګواښ دی.

۶- د خدمتونو کیفیت ټیټېدل: کله چې په کومه اداره کې فساد پیدا شي هرو مرو هلته وړ او صادق کسان د اړیکو او رشوت له امله څنګ ته کېږي او پر ځای یې نالایق کسان ګومارل کېږي چې له امله یې د روغتیا، تعلیم، امنیت او نورو دولتي خدمتونو کیفیت ښکته کېږي چې د دې لپاره په تاریخ کې تېر شوي فاسد نظامونه لویه بېلګه ده.

۷- د عدالت له منځه تلل: مالي فساد د عدالت اصل زیانمنوي. هغه څوک چې رشوت ورکوي، خپل کار ژر ترسره کوي، خو بېوزلي او بېوسه خلک له خپلو قانوني حقونو هم محرومېږي چې دا کار په ټولنه کې د بې‌عدالتۍ سبب جوړېږي او په خلکو کې یو ډول د بې انصافۍ احساس پیاوړی کوي چې په نتیجه کې په شعوري یا غیر شعوري ډول عدالت له منځه ځي یا لږ تر لږه کمزوری کېږي.

۸- د جرمونو او نورو فسادونو زیاتوالی: د مالي فساد منفي اغېزې یوازې په یوه برخه کې نه پاتې کېږي، بلکې له ځان سره نور فسادونه هم راولي؛ لکه جعل، قاچاق، د پیسو مینځل، د اسنادو تحریف او د دولتي امکاناتو شخصي استعمال. په دې توګه د قانون حاکمیت کمزوری کېږي او هرج و مرج ورسره پیدا کېږي.

۹- د دولت د نړیوال اعتبار کمېدل: هغه دولت چې مالي فساد پکې ډېر وي، د نړیوالو ادارو، پانګه اچوونکو او مرستندویانو باور له لاسه ورکوي. په پایله کې بهرنۍ پانګونه، اقتصادي مرستې او نړیوالې همکارۍ ورسره کمېږي چې دغه څه موږ د کابل اداري په وخت کې ولیدل چې په نړۍ کې یې دومره اعتبار کم شو چې په فساد کې یې لومړی مقام خپل کړ.

۱۰- اسلامي ارزښتونه کم رنګه کېدل : اسلام مالي فساد سخت حرام بللی دی، ځکه دا د خلکو د مالونو خوړل، د امانت خیانت او د عدالت له منځه وړل دي. الله تعالی فرمایي: ژباړه: او د یو بل مالونه په باطله طریقه مه خورئ. (سورة البقرة: ۱۸۸)

نو چې کله مالي فساد تر سره کېږي دا خپله د دې ښکارندویي کوي چې په فساد کې ښکېل کسان اسلامي ارزښتونو ته ارزښت نه ورکوي، کنه نو هېڅ وخت به یې فساد ته زړه نه واې ښه کړی چې هم په معنوي لحاظ او هم په ظاهري لحاظ پر دولت او ملت دواړو بدې اغېزې کوي او په تدریجي ډول د دولت سقوط یا ډېر کمزوري کولو ته لاره اواروي.

د دښمن پلوو رسنیو د بې‌بنسټه شایعاتو منفي اغېزې

قاري بدرالدین فراهي

په هره ټولنه کې رسنۍ د عامه افکارو د جوړولو او د حقایقو د رسولو مهمې وسیلې ګڼل کېږي. د رسنیو اساسي دنده دا ده چې معلومات او خبرونه د حقیقت، امانتدارۍ او بې‌طرفۍ پر بنسټ خپاره کړي، څو خلک له واقعي حالاتو خبر شي، خو کله چې ځینې رسنۍ د سیاسي موخو، بهرنیو ګټو یا شخصي تعصبونو له امله له حقیقت څخه سترګې پټې کړي او بې‌له تحقیقه شایعات خپاره کړي، نو نه یوازې د رسنیو اعتبار زیانمنېږي، بلکې د ټولنې پر امنیت، ثبات او د خلکو پر ذهني وضعیت هم ناوړه اغېزې پرېباسي.

په دې وروستیو کې لیدل کېږي چې ځینې د اسلامي امارت مخالفې او د پردیو تر اغېزو لاندې رسنۍ، د کره معلوماتو له ترلاسه کولو پرته، د افغانستان په اړه ډول ډول اوازې خپروي. کله د کوم لوړپوړي چارواکي د بغاوت خبر ورکوي، کله د داخلي اختلافاتو کیسې جوړوي او کله هم د امنیتي وضعیت په اړه داسې انځور وړاندې کوي چې له واقعي حالاتو سره سمون نه لري. ډېر وخت وروسته ثابته شوې چې دا ډول خبرونه یوازې شایعات او تبلیغات وو.

د رسنیو دنده د خلکو غولول نه، بلکې د حقیقت بیانول دي. هغه رسنۍ چې پر دروغو، مبالغې او بې‌اساسه راپورونو تکیه وکړي، په حقیقت کې د خپل مسلکي اعتبار بنسټ کمزوری کوي. کله چې خلک څو ځله دروغجن خبرونه ویني، ورو ورو د دغو رسنیو پر راپورونو باور له لاسه ورکوي او د هغوی هر نوی خبر له شک او بې‌باورۍ سره مخ کېږي. دا د هرې رسنۍ لپاره ستره معنوي ماتې ده.

له بلې خوا، شایعات د خلکو پر ذهنونو هم ژورې اغېزې لري. بې‌بنسټه اوازې د خلکو په منځ کې وېره، اندېښنه، بې‌اعتمادي او ذهني ګډوډي پیدا کوي. که څه هم حقیقت بل ډول وي، خو دروغجن تبلیغات د ځینو خلکو په زړونو کې شکونه پیدا کوي او د ټولنیز یووالي د کمزوري کېدو لامل ګرځي. همدارنګه د هېواد د پرمختګ، پانګونې او اقتصادي فعالیتونو پر وړاندې هم منفي اغېزې لري، ځکه ناامني او بې‌ثباتي د شایعاتو له لارې له واقعي حالاتو ډېره انځورېږي.

د معلوماتو د چټک خپرېدو په دې عصر کې د ټولنیزو رسنیو رول هم ډېر مهم شوی دی. هر څوک کولای شي په څو شېبو کې یو خبر زرګونو کسانو ته ورسوي، خو که دا خبر ناسم او بې‌اساسه وي، زیان یې هم په هماغې اندازې پراخ وي. له همدې امله د هر مسلمان او هر مسئول وګړي دنده ده چې د هر خبر له شریکولو مخکې د هغه د حقیقت په اړه ډاډ ترلاسه کړي. د ناسم خبر خپرول، که په قصدي ډول وي او که د بې‌احتیاطۍ له امله، د خلکو ترمنځ د بې‌باورۍ او ګډوډۍ د زیاتېدو سبب ګرځي.

اسلام هم د خبرونو د خپرولو په اړه ډېر واضح اصول ټاکلي دي. د قرآنکریم د لارښوونې له مخې، که یو خبر راورسېږي، باید له خپرولو مخکې یې تحقیق وشي، څو انسان د ناپوهۍ له امله نورو ته زیان ونه رسوي او وروسته پښېمانه نه شي. همدارنګه د رسول الله صلی الله علیه وسلم د لارښوونې له مخې، انسان ته همدا دروغ بس دي چې هر څه واوري او بې له څېړنې یې نورو ته ورسوي. دغه الهي او نبوي لارښوونې ښیي چې اسلام د شایعاتو، دروغو او بې‌بنسټه تبلیغاتو سخت مخالف دی، ځکه دا کار د خلکو ترمنځ د اختلاف، فتنې او بې‌اعتمادۍ سبب ګرځي.

همدارنګه د هېواد د مخالفینو یوه مهمه تګلاره دا ده چې د تبلیغاتي جګړې له لارې د خلکو ترمنځ شکونه او اختلافونه رامنځته کړي. دوی هڅه کوي د ناسم خبر، مبالغې او افواهاتو په وسیله د خلکو مورال کمزوری او د ټولنې فکري یووالی زیانمن کړي. که خلک دا ډول خبرونه بې‌له تحقیقه ومني، د دروغجنو تبلیغاتو موخه تر ډېره بریالۍ کېږي؛ خو که د تحقیق، پوهاوي او د باوري سرچینو د کارولو فرهنګ پیاوړی شي، نو د شایعاتو اغېزې په طبیعي ډول کمېږي.

هغه رسنۍ چې د حقیقت پر ځای شایعات خپروي، په حقیقت کې د ټولنې پر وړاندې خپل اخلاقي او مسلکي مسئولیت تر پښو لاندې کوي. د رسنیو ازادي هغه وخت ارزښت لري چې له صداقت، عدالت او مسئولیت سره مل وي؛ که نه، ازادي د دروغو او فتنې د خپرولو جواز نه شي کېدای. یوه مسئوله رسنۍ باید د هر خبر له خپرولو مخکې د هغه سرچینه وارزوي، د دواړو لوریو نظر واوري او د کره اسنادو پر بنسټ معلومات وړاندې کړي، ځکه همدا اصول د ژورنالېزم د اعتبار بنسټ جوړوي. په همدې ډول، عام خلک هم باید د هر خبر په اورېدو یا لیدلو سره ژر پرېکړه ونه کړي، بلکې لومړی یې د حقیقت په اړه ډاډ ترلاسه کړي. د احساساتو پر ځای د عقل، تحقیق او کره معلوماتو له مخې چلند کول د سالمې ټولنې نښه ده. هر وګړی د دې مسئولیت لري چې د ناسمو خبرونو له خپرولو ډډه وکړي او نورو ته هم د تحقیق سپارښتنه وکړي، څو ټولنه د شایعاتو له زیانونو خوندي پاتې شي.

موږ ویلای شو چې بې‌بنسټه شایعات او تبلیغات نه یوازې د رسنیو اعتبار له منځه وړي، بلکې د خلکو پر ذهنونو، ټولنیز یووالي او د هېواد پر ثبات هم ناوړه اغېزې لري. د یوې سالمې او باوري ټولنې د جوړېدو لپاره اړینه ده چې رسنۍ د حقیقت، تحقیق او امانتدارۍ اصول مراعات کړي او خلک هم هر خبر د باور وړ سرچینو او کره معلوماتو له ارزونې وروسته ومني. همدا چلند د رسنیو د اعتبار د ساتنې، د ټولنې د ذهني آرامتیا او د ملي یووالي د پیاوړتیا له ټولو غوره لاره ده.

توسعه زیربناها؛ پایان وابستگی و آغاز استقلال واقعی افغانستان

رسول خان امین

اگر پلان پنج‌ساله توسعه انرژی برق را تنها یک برنامه برای تولید چند هزار میگاوات برق بدانیم، در حقیقت از درک مهمترین بعد آن غفلت کرده‌ایم. این طرح، پیش از آنکه یک پروژه فنی باشد، یک پروژه راهبردی برای آینده افغانستان است؛ زیرا تجربه تاریخ معاصر کشور نشان داده است که هر ملتی که نتواند انرژی، آب، صنایع و زیرساخت‌های حیاتی خود را تأمین کند، ناگزیر بخشی از استقلال اقتصادی و حتی سیاسی خود را نیز از دست خواهد داد.

افغانستان طی چند دهه گذشته، باوجود برخورداری از منابع عظیم آبی، معادن سرشار، ظرفیت گسترده تولید انرژی خورشیدی و بادی و موقعیت ممتاز جغرافیایی، نتوانسته است این ظرفیت‌ها را به ثروت ملی تبدیل کند و نتیجه آن شده است که امروز بخش عمده برق کشور از خارج وارد می‌شود و میلیون‌ها دالر هرسال برای خرید انرژی از کشورهای همسایه پرداخت می‌گردد. این وابستگی تنها یک هزینه اقتصادی نیست؛ بلکه یک آسیب‌پذیری راهبردی نیز محسوب می‌شود. کشوری که روشنایی خانه‌ها، فعالیت کارخانه‌ها، شفاخانه‌ها وادارات آن به تصمیم دولت‌های دیگر وابسته باشد، در شرایط بحرانی همواره در معرض فشار قرار خواهد داشت.

در سال‌های اخیر، افغانستان بارها تجربه کرده است که چگونه مسیرهای ترانزیتی، گذرگاه‌های مرزی و امکانات اقتصادی می‌توانند به ابزار اعمال فشار سیاسی تبدیل شوند. این تجربه نشان می‌دهد که در روابط بین‌الملل، هیچ کشوری منافع ملی خود را فدای منافع کشور دیگر نمی‌کند. از همین رو، مردم افغانستان از دیرباز گفته‌اند: «گلیم همسایه تا نصف روز است.» این ضرب‌المثل تنها یک‌سخن عامیانه نیست، بلکه خلاصه یک اصل مهم در سیاست و اقتصاد است؛ هیچ ملت عاقلی نباید آینده خود را بر امکانات دیگران بنا کند، زیرا روابط میان دولت‌ها بر پایه منافع ملی استوار است، نه بر احساسات و دوستی‌های دایمی.

واقعیت دیگر این است که افغانستان در دهه‌های گذشته، علاوه بر جنگ و ناامنی، از نبود یک سیاست پایدار برای توسعه زیرساخت‌های ملی نیز رنج‌برده است. بسیاری از پروژه‌های بزرگ انرژی، بندهای برق، خطوط انتقال و طرح‌های زیربنایی، یا در پیچ‌وخم اختلافات سیاسی متوقف شدند، یا به دلیل ضعف مدیریت، فساد، تغییر حکومت‌ها و رقابت‌های منطقه‌ای سال‌ها به تعویق افتادند. در چنین فضایی، طبیعی بود که توسعه زیربناها قربانی بی‌ثباتی شود و کشور همچنان به واردات وابسته‌بماند.

امروز اما شرایط متفاوت است. ساختار متمرکز تصمیم‌گیری این فرصت را فراهم کرده است که پروژه‌های بزرگ ملی، بدون گرفتار شدن در کشمکش‌های طولانی اداری و سیاسی، با سرعت بیشتری به مرحله اجراء برسند. این فرصت، اگر با مدیریت سالم، شفافیت، پاسخ‌گویی و استفاده از دانش متخصصان همراه شود، می‌تواند نقطه عطفی در تاریخ توسعه افغانستان باشد؛ اما اگر این فرصت نیز از دست برود، مسئولیت آن تنها متوجه یک نسل نخواهد بود؛ بلکه پیامدهای آن نسل‌های آینده را نیز متأثر خواهد ساخت و تاریخ درباره آن قضاوت خواهد کرد.

در کنار حکومت، مسئولیت بخش خصوصی نیز بسیار سنگین است. سرمایه‌گذاران افغان در سال‌های گذشته سرمایه‌های بزرگی را در کشورهای مختلف به گردش درآورده‌اند، اما امروز افغانستان بیش از هر زمان دیگری به همین سرمایه‌ها نیاز دارد. دولت باید با تضمین امنیت سرمایه‌گذاری، حمایت حقوقی، کاهش بیروکراسی و ایجاد مشوق‌های اقتصادی، زمینه را برای بازگشت سرمایه‌های ملی فراهم سازد. هر دالری که در ساخت بندهای برق، نیروگاه‌های خورشیدی و بادی، صنایع، معادن، راه‌آهن و سایر پروژه‌های زیربنایی سرمایه‌گذاری شود، در حقیقت سرمایه‌گذاری برای آینده مستقل افغانستان است.

خودکفایی در انرژی، آغاز خودکفایی در اقتصاد است و خودکفایی اقتصادی، پایه استقلال سیاسی هر کشور به شمار می‌رود. افغانستان زمانی می‌تواند از فشارهای بیرونی رهایی یابد که نیازهای اساسی خود را از منابع داخلی تأمین کند. ازاین‌رو، پلان پنج‌ساله توسعه انرژی برق نباید پایان راه تلقی شود، بلکه باید سرآغاز یک نهضت ملی برای توسعه همه زیربناهای کشور باشد؛ نهضتی که بندهای برق، شبکه‌های انتقال، راه‌آهن، صنایع، استخراج معادن، مدیریت منابع آب و تولید داخلی را به محور اصلی سیاست‌های توسعه‌ای افغانستان تبدیل کند. تنها از این مسیر است که کشور می‌تواند از چرخه تاریخی وابستگی خارج شود و بر پایه توانایی‌های خود، آینده باثبات، مقتدر و آباد را برای نسل‌های آینده بنا نهد.

وېډیو ګېم؛ د فکري جګړې یو بل زهرجن غشی

محمدامین حیدري

په نړیواله کچه د جګړې بڼه بدله شوې ده. پخوا به جګړې د وسلو، پوځونو او جغرافیایي سیمو د نیولو لپاره کېدې، خو نن د انسان د ذهن، باور او هویت د اغېزمنولو سیالي هم ورسره ملګرې شوې ده. رسنۍ، ټولنیزې شبکې، فلمونه او وېډیو ګېمونه د دې نوې سیالۍ مهم وسایل ګڼل کېږي. له همدې امله، د وېډیو ګېمونو ارزونه یوازې د تفریح له زاویې نه، بلکې د هغو د فرهنګي او فکري اغېزو له نظره هم اړینه ده.

وېډیو ګېمونه د نړۍ د تفریحي صنعت له سترو برخو څخه دي او هره ورځ میلیونونه ماشومان او ځوانان ساعتونه ورسره تېروي. د یوه ګېم کیسه، کرکټرونه، سمبولونه او د بریا او ماتې تعریفونه د لوبغاړي پر ذهن اغېزې پرېباسي. همدا لامل دی، چې د ګېم جوړوونکي یوازې د ساعتتېرۍ په موخه کار نه کوي، بلکې ډېر وخت د خپلو ټولنیزو، فرهنګي او سیاسي لیدلورو انعکاس هم پکې ځایوي.

په وروستیو لسیزو کې یو شمېر مشهورو جګړه‌ییزو ګېمونو د مسلمانانو او اسلامي سیمو انځور په داسې بڼه وړاندې کړی چې د نیوکو وړ بلل شوی دی. په ځینو لوبو کې د جګړې اصلي ډګر عربي یا اسلامي هېوادونه وي او د دښمن ډېر کرکټرونه د عربي نومونو، اسلامي جامو یا ختیځې بڼې لرونکي کسان وي. د دې ډول انځورونو تکرار په تدریج سره د ځینو لوبغاړو په ذهن کې دا تصور پیدا کولای شي، چې ګواکې تاوتریخوالی او ناامني له مسلمانانو سره تړلې پدیده ده.

دغه موضوع یوازې د مسلمانو څېړونکو اندېښنه نه ده؛ بلکې د رسنیو د اغېزو په برخه کې د نړۍ ګڼ متخصصان باور لري چې پرله‌پسې تکرار د خلکو پر ذهني انځورونو اغېزه کوي. کله چې یو مخاطب کلونه کلونه په یوه ځانګړي قالب کې یو قوم، دین یا سیمه ویني، هماغه انځور ورو ورو د حقیقت بڼه خپلوي، که څه هم له واقعیت سره بشپړ سمون ونه لري.

ځینې ګېمونه د اسلامي نښو او شعائرو د ناسمې کارونې له امله هم له اعتراضونو سره مخ شوي دي. په بېلابېلو وختونو کې داسې پېښې ثبت شوي چې د قرآنکریم د آیتونو، جوماتونو یا نورو اسلامي نښو کارول د لوبو په چاپېریال کې د مسلمانانو د احساساتو د ټپي کېدو لامل شوي دي. په ځینو مواردو کې د پراختیاکوونکو شرکتونو له خوا له اعتراضونو وروسته دا محتوا بدله یا لرې شوې، دا خپله ښیي چې د دې ډول موضوعاتو په اړه حساسیت موجود دی.

له دې ټولو سره سره، دا هم باید په یاد ولرو، چې هر وېډیو ګېم یوه موخه او یو پیغام نه لري، بلکې ډېرې لوبې یوازې د تفریح، زده‌کړې، ستراتېژۍ یا ورزشي سیالیو لپاره جوړې شوي او هېڅ ډول مذهبي یا سیاسي محتوا نه لري. له همدې امله، پر ټولو ګېمونو یو شان قضاوت کول نه علمي دي او نه عادلانه. مهمه خبره دا ده چې لوبغاړی د هرې لوبې منځپانګه په هوښیارۍ وارزوي او د هغو پیغامونو په اړه فکر وکړي چې په شعوري یا غیر شعوري ډول یې ذهن ته لېږدول کېږي.

د نن ورځې ځوانان د معلوماتو او رسنیو له بې‌ساري بهیر سره مخ دي. که رسنیز سواد ونه لري، ښایي د تفریح په نامه له داسې پیغامونو سره مخ شي، چې د دوی پر باورونو، ارزښتونو او فرهنګي هویت اغېزې وکړي. له همدې امله، کورنۍ، ښوونیز بنسټونه او رسنۍ مسئولیت لري چې ځوان نسل د انتقادي فکر، رسنیز تحلیل او د محتوا د ارزونې له مهارتونو سره بلد کړي.

مسلمان ځوان باید د هرې لوبې، فلم او رسنیزې محتوا پر وړاندې د شعوري انتخاب وړتیا ولري. تفریح هغه وخت ګټوره ده چې له سالم فکر، اخلاقي ارزښتونو او علمي پوهاوي سره مل وي. هر هغه انسان چې د خپل فکر ساتنه کوي، د نورو د تبلیغاتو او ذهني اغېزو پر وړاندې هم پیاوړی دریځ خپلولای شي.

نن سبا فکري جګړه د معاصرې نړۍ یو څرګند واقعیت دی. د دې جګړې د ګټلو له ټولو اغېزمنه لاره د پوهاوي لوړول، د رسنیز سواد پیاوړتیا او د خپلو فرهنګي او دیني ارزښتونو پر بنسټ د سالمو او باکیفیته فرهنګي تولیداتو رامنځته کول دي. کله چې یو ملت د خپل فکر ساتنه زده کړي، هېڅ پټه تبلیغاتي وسیله نه شي کولای د ده هویت، باور او ارزښتونه کمزوري کړي.

افغان اعلانات

اعلان مفقودی

یک جلد کتابچه صافیی مربوط ناحیه پنجم به اسم حاجی سیف الله ولد حاجی محمد اخلاص مفقود گردیده از اعتبار ساقط است.۳۵۷۷

اعلان مفقودی

یک قطعه جواز صنفی مرغ فروشی واقع ناحیه سوم کارته چهارم به اسم محمد عثمان ولد خیال محمد مفقود گردیده از اعتبار ساقط است.۳۵۷۹

اعلان مفقودی

یک قطعه ایرویبل گمرکی شرکت نوی حفیظ حبیب لمتید Z2F16020424433579 مفقود گردیده از اعتبار ساقط است.۳۵۹۴

اطلاعیه تقرری

قرار است محترم محمد نذیر فرزند محمد آصف دارنده تذکره شماره (۴۰۵۹۶- ۰۷۰۰- ۱۳۹۸) مسکونه فعلی ناحیه در مربوطات شاروالی کابل بحیث دریور تقرر حاصل نماید نامبرده اگر به دوایر و موسسات مسوولیت داشته باشد الی مدت یک هفته به ریاست مالی و اداری شاروالی کابل مراجعه نموده در غیر آن حق شکایت را نخواهند داشت.۳۵۶۸

اطلاعیه فروش امتیاز دواخانه

محترم محمد غنی مالیزی فرزند حاجی غلام علی ولدیت غلام رسول دارنده تذکره نمبر (۵۳۸۸۶- ۰۴۰۱- ۱۴۰۰) مسکونه اصلی ولایت غزنی وکیل شرعی امتیاز دواخانه قره باغ واقع ولسوالی قره باغ ولایت غزنی طی درخواستی به مقام محترم معینیت غذا و ادویه وزارت صحت عامه عارض و خواهان فروش امتیاز دواخانه موکل خویش بالای محترم جاوید احمد فرزند محمد غنی مالیزی ولدیت حاجی غلام علی دارنده تذکره شماره (۷۵۷۷۸- ۱۱۰۱ - ۱۴۰۱) مسکونه اصلی ولایت غزنی گردیده است.

اشخاص موسسات ودوایر دولتی در مورد ادعای داشته باشند از تاریخ نشر اعلان الی مدت ۱۰ روز به آدرس اداره ملی غذا وادویه افغانستان واقع ده افغانان تعمیر قبلی وزارت اطلاعات و فرهنگ مراجعه نمایند. ۳۵۷۰

اعلان کرایه دهی

شرکت امارتی افسوتر هنگر (۶/۵) به مساحت ۲۶۴۰ متر مربع واقع سرای شمالی خویش را از طریق پروسه آفرگشایی به تاریخ ۱۴۰۵/۴/۱۷ واگذار نموده که محترم ناصر ایوبی مبلغ ۳۷۵۲۰۰ افغانی بلند ترین نرخ را ارایه و خواهان بکرایه گرفتن جایداد متذکره گردیده است.

شرکت امارتی افسوتر در نظر دارد موضوع یک بار دیگر به مزایده بگذارد. بناء اشخاص حقیقی و حکمی که خواهان به کرایه گرفتن جایداد متذکره را بلند تر از نرخ فوق داشته باشند، بعد از نشر اعلان الی مدت ۷ روز به ریاست امور تجارتی افسوتر واقع کوچه گلفروشی شهر نو کابل مراجعه تضمین نقدا اخذ میگردد.

جلسه مزایده به ساعت ۱۰ ده قبل از ظهر در حضور متقاضیان یا نمایندگان با صلاحیت ایشان برگزار میگردد. ۳۵۵۶

اطلاعیه تصمیم اعطای قرارداد

بدینوسیله به اطلاع عموم داوطلبان رسانیده میشود که وزارت شهر سازی و مسکن در نظر دارد تا تدارک ترمیم و رنگمالی ۱۵ باب آپارتمان بلاکهای رهایشی گلبهار سنتر دارای کود تدارکاتی MUDH/1405/NCB/G-1621 را به شرکت ساختمانی و سرکسازی احمد فهیم دارای جواز نمبر (D-31705) به قیمت مجموعی ۱,۰۲۶,۸۸۵/۰۰ (یک میلیون و بیست و شش هزار و هشت صدو هشتاد و پنج)افغانی اعطاء نماید.

بنآ اشخاص حقیقی و حکمی که هرگونه اعتراض در زمینه داشته باشند، میتوانند اعتراض خویش را از تاریخ نشر این اعلان الی پنج (۵)روز کاری طور کتبی توام با دلایل آن به ریاست تدارکات وزارت شهر سازی و مسکن واقع مکروریان سوم، مقابل مطبعه آزادی، ارایه نمایند.

این اطلاعیه به معنی عقد قرارداد نبوده و الی تکمیل میعاد فوق الذکر و طی مراحل قانونی بعدی، قرارداد منعقد نخواهد شد.

***

اطلاعیه تصمیم اعطای قرارداد

بدینوسیله به اطلاع عموم داوطلبان رسانیده میشود وزارت شهرسازی ومسکن درنظردارد تاپروژه تهیه و تدارک لات دوم پرزه جات وسایط و ماشینری برای سال مالی ۱٤۰۵ دارای کودتدارکاتی MUDH/1405/NCB/G-1561 به شرکت خدمات لوژستیکی و تجارتی بلال عیسی زاده دارنده جواز نمبر ۷٤۵۲۲ به قیمت مجموعی مبلغ ۱،٤٤۷،۹۹۹ یک میلیون و چهارصدو چهل و هفت هزارو نه صدو نودو نه افغانی اعطاء نماید.

اشخاص حقیقی و حکمی که هرگونه اعتراض درزمینه داشته باشند، میتوانداعتراض خویش را از تاریخ نشر این اعلان الی هفت (۵) روزکاری طورکتبی توام با دلایل آن به ریاست تدارکات وزارت شهرسازی ومسکن واقع مکروریان سوم، ارایه نمایند.

این اطلاعیه به معنی عقد قرارداد نبوده و الی تکمیل میعاد فوق الذکر و طی مراحل قانونی بعدی، قرارداد منعقد نخواهد شد.

اطلاعیه تصمیم اعطای قرارداد

بدینوسیله به اطلاع عموم داوطلبان رسانیده میشود وزارت شهرسازی ومسکن درنظردارد تاپروژه تهیه و تدارک لات اول پرزه جات وسایط برای سال مالی ۱٤۰۵ دارای کودتدارکاتی MUDH/1405/NCB/G-1308 به شرکت خدمات لوژستیکی و تجارتی بلال عیسی زاده دارنده جواز نمبر ۷٤۵۲۲ به قیمت مجموعی مبلغ ۱،۱٦۱،٤۹۷ یک میلیون ویکصدو شصدو یک هزارو چهارصدو نودو هفت افغانی اعطاء نماید.

اشخاص حقیقی و حکمی که هرگونه اعتراض درزمینه داشته باشند، میتوانداعتراض خویش را از تاریخ نشر این اعلان الی هفت (۵) روزکاری طورکتبی توام با دلایل آن به ریاست تدارکات وزارت شهرسازی ومسکن واقع مکروریان سوم، ارایه نمایند.

این اطلاعیه به معنی عقد قرارداد نبوده و الی تکمیل میعاد فوق الذکر و طی مراحل قانونی بعدی، قرارداد منعقد نخواهد شد.

اطلاعیه تصمیم اعطای قرارداد

بدینوسیله به اطلاع عموم داوطلبان رسانیده میشود وزارت شهرسازی ومسکن درنظردارد تاپروژه تهیه و تدارک ۵۳ قلم قرطاسیه باب مورد ضرورت سال مالی ۱٤۰۵ دارای کودتدارکاتی MUDH/1405/NCB/G-1538 به شرکت آریا استیشنری لمیتد دارنده جواز نمبر ۷۰۵۲-۰۱۰۱ به قیمت مجموعی مبلغ ۲،۲۹۰،۰۰۰ دو میلیون و دوصدو نود هزار افغانی اعطاء نماید.

اشخاص حقیقی و حکمی که هرگونه اعتراض درزمینه داشته باشند، میتوانداعتراض خویش را از تاریخ نشر این اعلان الی هفت (۵) روزکاری طورکتبی توام با دلایل آن به ریاست تدارکات وزارت شهرسازی ومسکن واقع مکروریان سوم، ارایه نمایند.

این اطلاعیه به معنی عقد قرارداد نبوده و الی تکمیل میعاد فوق الذکر و طی مراحل قانونی بعدی، قرارداد منعقد نخواهد شد.

اطلاعیه تصمیم اعطای قرارداد

بدینوسیله به تأسی از فقره (۲) ماده چهل و سوم قانون تدارکات به اطلاع عموم رسانیده می شود، ریاست کابل برشنا در نظر دارد تا قرارداد پروژه تهیه و تدارکات تجهیزات برقی و مواد ساختمانی ضرورت جنکشن دوم را تحت شماره کابل برشنا- ۱٤۰۵- داوطلبی باز ملی داخلی- اجناس- ۰۱٤ با شرکت تولید وسایل برقی سلیمان احسان امین دارنده جواز نمبر ۱۰۷۳۲۵ و با داشتن محل اصلی تجارتی }پل محمود خان مرکز، کابل افغانستان} را به مبلغ ۷۱۳,۳۱۸ هفت صد سیزده هزار و سه صدو هژده افغانی اعطا نماید.

اشخاص حقیقی و حکمی که هرگونه اعتراض در زمینه داشته باشند، می توانند اعتراض خویش را از تاریخ نشر این اعلان الی هفت روز تقویمی طور کتبی توأم با دلایل آن به ریاست کابل برشنا - چمن حضوری- ناحیه هشتم - کابل افغانستان وفق احکام ماده پنجاهم قانون تدارکات ارائه نمایند.

این اطلاعیه به معنی عقد قرارداد نبوده و الی تکمیل میعاد فوق الذکر و طی مراحل قانونی بعدی، قرارداد منعقد نخواهند شد.

د کابل ـ بګرام سړک د لومړي فاز ...

د جوړولو او رغولو چارې هم پیل شوي چې د ډېرو کارونه یې بشپړېدو ته نږدې شوي دي. بله خوا په کابل ښار کې ډېر سړکونه پراخ شوي هم دي او همداراز د هېواد په ډېرو ښارونو کې د دویم لین سړکونو د جوړېدو چارې هم روانې دي. د سړکونو د جوړولو او پراختیا دا ډول پروژې وخت ناوخت د هېوادوالو له هرکلي سره مخ شوي او د ورته پروژو د تطبیق غوښتنه کېږي.

میرویس روغتون کې د طبي اکسیجن د تولید ...

ویلي چې دغه فابریکه کندهار ته د وروستي سفر پر مهال د سویلي اسیا لپاره د یونیسف د سیمه ییز مدیر، سنجي ویجسکرا، په ملتیا پرانیستل شوه. د ده په وینا، دا فابریکه به د نویو زېږېدلو ماشومانو، کوچنیانو، میندو او د بېړنیو څانګو د ناروغانو لپاره اړین طبي اکسیجن برابر کړي.

د کورنیو چارو وزیر د پکتیا د وروستي برید ...

یوه غړي وویل: د دې برید ټول قربانیان ملکي وګړي دي چې ډېری یې ښځې او ماشومان دي. دغه راز، د دې لیدنې پر مهال قومي مشرانو او مخورو د اسلامي امارت له لوري د ترسره شویو مرستو مننه وکړه، له زیانمنو کورنیو سره یې د نورو مرستو غوښتنه کړې او زیاته کړې یې ده، هغه ټپیان، چې لا هم د درملنې لپاره په روغتونونو کې بستر دي، باید روغتیایي وضعیت ته یې جدي پاملرنه وشي. ښاغلي خلیفه سراج‌الدین حقاني، د شهیدانو ارواحو ته د مغفرت دعا کړې، ټپیانو ته یې د بېړنۍ روغتیا هیله څرګنده کړې او داډ یې ورکړی، چې له زیانمنو کورنیو سره به هر ډول اړینې مرستې وشي.

بغلان کې د پنځه میلیونو افغانیو په لګښت ...

شوی دی.

د نوموړي په وینا، د دغه لوبغالي پرانیسته په ولایت کې د ورزشي بنسټونو د پراختیا، د ورزش د ودې او ځوانانو ته د سالمې بوختیا د برابرولو په برخه کې یو مهم ګام ګڼل کېږي.

لغمان کې د سیاحتي شرکتونو له مسئولینو ...

پرته د شرکتونو د فعالیت مخه نیول کېږي. همدارنګه د شفافیت او معیاري خدماتو د تضمین لپاره د سیاحتي او زیارتي شرکتونو څارنه او ارزونه په دوامداره توګه ترسره کېږي.

مالیاتي اسانتیاوې د اقتصادي ودې او پانګونې ...

او حقیقي اشخاص، د ملکیتونو انتقال او سون توکي په کې شامل دي. د دغو اصلاحاتو له مخې د کانونو له استخراج پرته د شرکتونو او خصوصي روغتونونو په ګډون د ډېرو حکمي اشخاصو د عایداتو مالیه ۱۰ سلنه راکمه شوې، د حقیقي اشخاصو د مالیاتي معافیت حد له ۶۰ زرو څخه ۱۲۰ زرو افغانیو ته لوړ شوی او د ملکیتونو د انتقال مالیه له یوې سلنې څخه نیم سلنې ته راټیټه شوې ده. دغه اصلاحات د خصوصي سکټور لپاره د لا ډېرو اسانتیاوو د رامنځته کولو او د اقتصادي فعالیتونو د چټکتیا څرګندونه کوي.

په حقیقت کې دا لومړی ځل نه دی، چې اسلامي امارت د مالیاتي اسانتیاوو په برخه کې عملي ګام پورته کوي. که د تېرو نږدې پنځو کلونو اقتصادي تګلارې ته وکتل شي، څرګندېږي، چې په ۱۳ بېلابېلو مالیاتي برخو کې تخفیفونه او اصلاحات عملي شوي دي. د دغو اصلاحاتو موخه یوازې د مالیاتو کمول نه دي، بلکې د کورنیو تولیداتو ملاتړ، د پانګونې تشویق، د صادراتو زیاتوالی، د سوداګرۍ پراختیا، د کارموندنې د فرصتونو رامنځته کول او د خصوصي سکټور لپاره د باور وړ اقتصادي چاپېریال برابرول دي.

له بلې خوا، اسلامي امارت تل ټینګار کړی، چې مالیه د دولت د مالي ثبات اساسي ستنه ده او د مالیاتو راټولول د حکومت او ولس ګډ مسئولیت جوړوي. کله چې مالیاتي نظام د عدالت، شفافیت او قانونیت پر بنسټ ولاړ وي، نه یوازې د خلکو باور ترلاسه کوي، بلکې د اقتصادي پرمختګ لپاره دوامدارې سرچینې هم برابروي. نن د اسلامي امارت تر چتر لاندې د مالیې وزارت هڅه کوي، چې د عوایدو راټولول، د عامه مالي سرچینو اغېزناک مدیریت او د اقتصادي ثبات ساتنه له داسې اصلاحاتو سره یو ځای پر مخ بوزي، چې د خصوصي سکټور د ودې او پانګونې مخه هم نه نیسي، بلکې لا یې هڅوي.

په ټوله کې، وروستي مالیاتي تخفیفونه د اسلامي امارت د اقتصادي لیدلوري او اصلاحاتي پالیسۍ یوه مهمه بېلګه ده. دغه اقدام نه یوازې د صنعتکارانو، سوداګرو او پانګوالو باور پیاوړی کوي، بلکې دا هم څرګندوي، چې اسلامي امارت د خصوصي سکټور د ملاتړ او د هېواد د اقتصادي پیاوړتیا لپاره عملي ګامونه اخلي.

په پای کې ګڼ شمېر صنعتکاران او هېوادوال له اسلامي امارت څخه غوښتنه کوي، چې د دغو اصلاحاتو بشپړه اغېزه هغه وخت لا ښه څرګندېدای شي، چې د تولیدي لګښتونو د لا کمولو، برېښنا ته د دوامداره او ارزانه لاسرسي، د خامو موادو د برابرولو، د کورنیو تولیداتو د بازار موندنې او د ملي تولیداتو د هر اړخیز ملاتړ لپاره نورې اسانتیاوې هم رامنځته شي.

د دوی په خبره که دا غوښتنې د روانو اقتصادي اصلاحاتو ترڅنګ په پام کې ونیول شي، نو د پانګونې کچه به نوره هم لوړه شي، د تولیدي سکټور سیالي به د سیمې په کچه پیاوړې شي، په کور دننه به زرګونو بېکارو او بېروزګارو هېوادوالو ته د کارموندنې نوي فرصتونه رامنځته شي او هېواد به د اقتصادي ځان‌بسیاینې، دوامدار پرمختګ او سوکالۍ پر لور لا چټک ګامونه واخلي.

برگزاری نشست هماهنگی برای تطبیق پروژه‌های ...

بازسازی و نوسازی افغانستان عزیز خواهد شد. در ادامه ملا محمد شریف، والی ولایت زابل در رابطه به فعالیت‌های صورت گرفته در آن ولایت صحبت نموده، بیان داشت که ولایت زابل یک ولایت توسعه نیافته است، کار های بنیادی و اساسی صورت نگرفته و فعالیت‌های هم که انجام شده است از بودجه داخلی امارت اسلامی افغانستان بوده و از مؤسسات سکتوری در این جلسه خواست که به ولایت زابل در بخش‌های مختلف توجه نمایند. سپس مسئولین مؤسسات ملی و بین‌المللی با تشکر از برگزاری این جلسه، در مورد فعالیت‌ها و تطبیق پروژه‌های شان در ولایات مختلف معلومات ارایه نموده و تعهد و همکاری شان را در جهت تطبیق پروژه‌ها مطابق به نیازهای ولایت‌های زابل و ارزگان اعلام داشتند. در اخیر روئسای ولایت زابل مشکلات و نیازمندی‌های این ولایت را در بخش‌های صحی، زراعت و مالداری، تأسیس سرپناه به مهاجرین و برگشت‌کنندگان و ایجاد اشتغال برای اینها، معارف و تحصیلات عالی، ارتقای ظرفیت و تأسیس بندهای آب و راه‌اندازی برنامه‌های آموزشی، تخنیکی و حرفوی بیان داشتند.

د لوړو زده کړو وزارت د رهبرۍ شورا غونډه کې ...

وکړ چې مرکزي او ولایتي مسئولین باید د خپلو ورځنیو چارو د غوره ترسره کولو ترڅنګ د ادارې پرمختګ او اصلاح ته هم جدي پاملرنه وکړي، ځکه چې د یوې برخې نیمګړتیا، یاهم ورته نه پاملرنه پر ټولو کارونو منفي اغېزې کوي او زیاته یې کړه چې د دیني جامعاتو او پوهنتونونو مسئولین دې د اړوندو چارو لکه: د رغنیزو پروژو، د محصلانو د لیلیو، د دعوت او ارشاد او نورو چارو دوامداره او جدي څارنه او ارزونه وکړي. وروسته له اجنډا سره سم د پوهنتونونو او دیني جامعاتو د څارنې په موخه د مرکزي ریاستونو د صلاحیت، د ضعیفو خصوصي پوهنتونونو هیئت ته د ځینو پوهنتونونو د وړپېژندنې، د امارتي پوهنتونونو د محصلانو د لیسانس برخې د زده کړو دورې د وخت، د هغو محصلانو د فیس په اړه چې د ماسټرۍ او دوکتورا تېزس یې لیکلی وي، خو مناقشه یې نه وي ترسره شوې او د متقاعدو استادانو د خدمت مودې د غځېدو او د ځینو نورو مهمو موضوعاتو په اړه لازمې پرېکړې وشوې.

تحقیقات تازه از رفتار غیرانسانی عساکر ...

به بیرون پرتاب می‌کردند. وزارت دفاع بریتانیا تاکنون در این مورد اظهار نظر رسمی نکرده، اما گفته که از روند تحقیقات مستقل حمایت می‌کند و نتایج نهایی آن را خواهد پذیرفت. این گزارش‌ها در حالی مطرح می‌شود که در جریان اشغال نظامی ناتو در افغانستان طی دو دهه گذشته هزاران اتهام درباره نقض حقوق غیرنظامیان و ارتکاب جنایات جنگی از سوی برخی نیروهای خارجی مطرح شده است.

حمایت از کودکان یتیم و بی‌سرپرست ...

امارت اسلامی افغانستان، به‌ویژه وزارت کار و امور اجتماعی، متعهد به حمایت از اقشار نیازمند، کارگران شاقه، کودکان کارگر، ایتام و کودکان بی‌سرپرست در سراسر کشور است و تلاش می‌کند زمینه دسترسی آنان به خدمات و سهولت‌های لازم را فراهم سازد. وی همچنان از سایر موسسات ملی و بین‌المللی و نهادهای خیریه خواست که با اجرای برنامه‌های مشابه، از کودکان یتیم و بی‌سرپرست حمایت کرده و زمینه دسترسی آنان به آموزش و امکانات مورد نیاز را فراهم کنند.

بیش از سه هزار قیراط زمرد به‌گونه ...

حضور هیأت کمیته محافظت از معادن به تاجران ملی کشور به ارزش دو میلیون و ۱۱۹ هزار افغانی به فروش رسید. مولوی محمد قاسم امیری، رئیس معادن و پترولیم پنجشیر، که در این مزایده حضور داشت، گفت که توسعه استخراج قانونی معادن با حمایت مقام ولایت و هماهنگی وزارت معادن و پترولیم امارت اسلامی افغانستان، زمینه اشتغال، افزایش عواید و تقویت خودکفایی اقتصادی باشندگان این ولایت را فراهم ساخته است. شماری از باشندگان پنجشیر نیز گسترش استخراج قانونی معادن را گام مهم در راستای رشد اقتصادی ولایت دانسته و تأکید کردند که افزایش عواید حاصل از معادن می‌تواند در ایجاد فرصت‌های شغلی و تطبیق پروژه‌های عام‌المنفعه در پنجشیر نقش مؤثری داشته باشد.

د افپي (AfPay) بانکي کارت ...

خدمتونو زمینه پراخه کړي. د نوموړي په وینا: «اف پي کارت د افغانستان بانک له لوري طرحه شوی او د بانک رسمي ملکیت دی، چې اوس مهال دغه کارت په لویو هټیو، سوپرمارکېټونو، رستورانتونو، د تېلو پمپونو او نورو سوداګریزو مرکزونو کې د پیسو تادیه کولو (POS) ماشینونو له لارې د پېر او پلور لپاره کارول کېږي. همداراز، د هېواد په ټولو ATM ماشینونو کې هم له محدودیت پرته د نغدو پیسو د اېستلو امکان لري.» ښاغلي نوري زیاته کړه، چې د دې کارت په وسیله د حسابونو ترمنځ د پیسو لېږد، د موبایل کرېډېټ اخیستل، د بانکي حساب کتل، د برېښنا بېلونو ورکول، د ځینو مالیاتو تحویلول او د لویو لارو د ټرانسپورټي فیسونو اداینه ترسره کېږي. د افغانستان بانک د معلوماتو له مخې، د اف پي کارت اخیستل د هر هغه چا لپاره ممکن دي، چې په یوه بانکي حساب کې شمولیت ولري او د کارت د جوړولو په بدل کې د افغانستان بانک له لوري هېڅ فیس یا کمېشن نه اخیستل کېږي. بله خوا، د اقتصادي او بانکي چارو شنونکی میرویس خوشحال' د دې پروګرام پراختیا مثبت ګام بولي، خو ټینګار کوي چې د بریا لپاره باید د عامه پوهاوي کچه لوړه او خدمات په ټول هېواد کې په یوشان ډول وړاندې شي. ده وویل: «ډېر خلک لا هم د دې کارت د ګټو او د کارونې له څرنګوالي بشپړ معلومات نه لري، نو اړینه ده چې د رسنیو، په ځانګړي ډول د تلوېزیوني اعلانونو له لارې پراخ عامه پوهاوی ترسره شي.» ښاغلي خوشحال همداراز زیاته کړه، چې اوس مهال د دې کارت آسانتیاوې په ځینو سیمو کې شته، خو په نورو ځایونو کې لا هم نه دي برابرې شوې او د برېښنایي بانکوالۍ د پراختیا لپاره باید دغه خدمات په ټول هېواد کې په متوازن ډول وغځول شي.

تاج محمد بهار

پروان کې زرګونه کاله پخوانۍ «کافر کلا» په ...

تاریخي مخینه یې له میلاد څخه شاوخوا ۳۰۰ کاله وړاندې دورې ته رسېږي، د لومړي ځل لپاره د یاد ریاست د تاریخي ابداتو په ډېټابیس کې ثبت شوه. د پروان د اطلاعاتو او فرهنګ رئیس ویلي: د فرنجل سیمې اړوند کافر کلا د یوې لوړې غونډۍ پر سر په ډېر کلک او ستراتېژیک ځای کې جوړه شوې، چې ګڼ شمېر امنیتي برجونه، یوه د ننوتلو لویه دروازه او لوړ دفاعي دېوالونه لري، چې د خپل وخت د پوځي او دفاعي موخې لپاره به ترې ګټه اخیستل کېده. نوموړي زیاته کړې: د اطلاعاتو او فرهنګ ریاست ژمن دی، چې د امیرالمؤمنین «حفظه الله» د تاریخي اثارو او سیمو د ساتنې اړوند فرمان په بشپړ ډول عملي کړي او د اړتیا وړ تاریخي سیمو د بیارغونې لپاره هڅې کوي. دغه‌راز ده د پروان ولایت له ولسونو څخه غوښتي، چې د تاریخي ځایونو د ثبت او ساتنې په برخه کې له یاد ریاست سره پوره همکار وکړي. ورته مهال د سیمې اوسېدونکو ویلي: د کافر کلا په شمال کې یوه لرغونې کلیواله سیمه موقعیت لري، چې د بودا کلي په نامه یادېږي.

Shariat Daily

Shariat
Published by
Islamic Emirate of Afghanistan
Eng, Uzair Baryaly ، Director of Gov.dailies
0202526340
Chief Editor : M. Munir Farooqi
Email: info@shariatdaily.com
WWW.shariatdaily.com :ویب سایت

شریعت
د امارتي ورځپاڼو رئیس:
انجنیر عُزیر بریالی / ۰۲۰۲۵۲۶۳۴۰
مسئول مدیر: محمد منیر فاروقي / ۰۷۶۴۸۰۸۲۰۵
مسئول سکرتر: رفیع الله رؤفي/ ۰۷۹۵۰۰۰۳۱۰
ډیزاین: بصیر احمد امیري / ۰۷۹۲۶۰۹۰۶۲
د شریعت برښنا لیک: info@shariatdaily.com
پته: اتمه ناحیه، د المپیک څلور لارې، د حضوري چمن ختیځ، کابل ـ افغانستان
شماره توزیع و شکایات: ۰۲۰۲۳۱۲۵۰۹ / ۰۷۶۶۰۴۴۹۶۶ / ۰۷۳۱۶۰۶۰۷۳

Wednesday 15 July 2026 / Established: 1995 / 2nd Season / Vol: 1107

د ریاست‌الوزراء اقتصادي معاونیت:
د کابل ـ بګرام سړک د لومړي فاز د جوړولو چارې ۳۱ سلنه بشپړې شوې دي

د ریاست‌الوزراء اقتصادي معاونیت خبر ورکړی، چې د کابل ـ بګرام سړک د لومړي فاز د جوړولو چارې ۳۱ سلنه بشپړې شوې دي. د خبرپاڼې له مخې، دا سړک ۲٫۶ کیلومتره اوږدوالی او ۵۰ متره سور لري او د جوړولو چارې به یې راتلونکي ۱۴۰۶ کال کې بشپړې شي. د ریاست‌الوزراء اقتصادي معاونیت لیکلي، چې پر دې سړک ۸٫۴۵۵ میلیونه افغانۍ مصرف راځي او شنه ساحه، ګلدانونه، ویالې او پلې لارې د دې پروژې برخې دي. د ریاست‌الوزراء اقتصادي معاونیت همدارازلیکلي، چې دا سړک د نوي کابل پروژې د زېربناوو په برخه کې له مهمو او اساسي پروژو څخه ګڼل کېږي. د یادولو وړ ده چې د اسلامي امارت له بیا واکمنېدو وروسته د هېواد د یو شمېر لویو لارو ... ۳مخ

ایران بحرین کې د امریکا د الجفیر اډې مهم تأسیسات په نښه کړي

ایسنا خبري اژانس د ایران د سپاه پاسداران، له قوله خبر ورکړی، چې ایران د امریکا د بریدونو په ځواب کې د «نصر ۲» عملیاتو د دویمې څپې په لومړي پړاو کې د بحرین پر الجفیر پوځي اډې د توغندیو او بې‌پیلوټه الوتکو بریدونه کړي. سپاه ادعا کړې، چې په دغو بریدونو کې د وسلو څو لوژستیکي زېرمتونونه، د سپوږمکۍ مخابراتو مرکز او د امریکایي ځواکونو د استوګنې ودانۍ ویجاړې شوې دي.

د غزې د بیا رغونې لپاره یو میلیارد ډالره مرسته اعلان شوه

اروپایي ټولنې او د نړۍ یو شمېر هېوادونو د غزې له جګړې وروسته د بیارغونې لپاره د نږدې یو میلیارد ډالرو مالي مرستې اعلان کړی دی. دغه مرستې به د کنډوالو د پاکولو، د اوبو شبکو، روغتیایي خدمتونو او د زیانمنو شویو بنسټیزو تاسیساتو د بیارغونې لپاره ولګول شي. د فلسطین لومړي وزیر محمد مصطفی ویلي: د غزې بیارغونه بېړنۍ اړتیا ده، خو د امنیتي ستونزو له حل پرته به پرمختګ ستونزمن وي. اروپایي ټولنې هم ویلي: که څه هم غزه ډېرو مرستو ته اړتیا لري، خو دا مرسته د فلسطین له خلکو سره د نړیوال ملاتړ څرګندونه کوي. په دې پروګرام کې د المان، فرانسې، بریتانیا، ایټالیا، جاپان، نړیوال بانک او د اروپا د پانګونې بانک په ګډون یو شمېر نورو هېوادونو او بنسټونو هم برخه اخیستې ده.

د ایران د پارلمان غړي د اټومي بم د جوړولوغوښتنه وکړه

د ایران د پارلمان غړي احمدبخشایش اردستاني ویلي: اوس د دې وخت رارسېدلی چې ایران د اټومي بم د جوړولو لپاره اقدام وکړي. نوموړي له ایراني رسنیو سره په خبرو کې ویلي: تهران او واشنګټن د اوږدمهالې جګړې لپاره لېوالتیا نه لري، خو د اختلاف اصلي محور د اټوم له قضیې هرمز تنګي ته انتقال شوی دی. ښاغلي اردستاني ویلي: ایران د اټومي پروګرام لپاره درنه بیه پرې کړې او اوس یې د جوړولو وخت رارسېدلی دی. نوموړي د ایران پر وړاندې د یوې احتمالي نړیوالې اجماع د رامنځته کېدو په اړه د پوښتنې په ځواب کې زیاته کړې: داسې یوه اجماع اوس هم شته او دا مهال امریکا او لوېدیځ هېوادونه د ایران پر وړاندې اقدام کوي. دا په داسې حال کې ده، چې ایراني چارواکو له دې وړاندې په وار وار ټینګار کړی چې اټومي پروګرام یې سوله‌ییز دی او د اټومي وسلو د جوړولو نیت نه لري.

ټرمپ: عربي هېوادونه دې د امریکا د پوځي ساتنې لګښت ورکړي

د امریکا ولسمشر ډونالډ ټرمپ ویلي: عربي هېوادونه باید په منځني ختیځ کې د امریکا د جګړې لګښت چې د یادو هېوادونو د ساتنې لپاره روانه ده ورکړي. ټرمپ پرون په سپینه‌ماڼۍ کې خبریالانو ته ویلي: امریکا د دوی ساتنه کوي او دوی باید د دې ساتنې لګښت ورکړي. ټرمپ له دې وړاندې هم وړاندیز کړی و، چې امریکا باید هرمز تنګي کې د امنیت او د بېړیو د تګ راتګ د ساتنې لپاره له ګټې اخیستونکو هېوادونو څخه د لګښتونو ۲۰سلنه ترلاسه کړي. دا په داسې حال کې ده، چې د ایران او امریکا ترمنځ د وروستیو جګړو له امله په سیمه کې تاوتریخوالی زیات شوی، چې په نړیوالو بازارونو کې د تېلو بیې هم ورسره لوړې شوې دي.

برگزاری نشست هماهنگی برای تطبیق پروژه‌های اشتغال‌زایی و حمایت از متشبثین در زابل

به هدف تطبیق بهتر پروژه‌ها در عرصه تشبثات و ایجاد اشتغال‌زایی، تمویل و کمک‌های مالی و تخنیکی و حرفوی به متشبثین و همکاری با خانواده‌ها و برگشت‌کنندگان؛ جلسه هماهنگی میان وزارت صنعت و تجارت و مؤسسات سکتوری تحت ریاست الحاج نورالدین عزیزی، وزیر صنعت و تجارت با حضور ملا محمد شریف، والی ولایت زابل و مسئولین ریاست‌های آن ولایت، رئیس صنعت و تجارت ولایت ارزگان و مسئولین مؤسسات ملی و بین‌المللی برگزار گردید. الحاج نورالدین عزیزی، وزیر صنعت و تجارت با تأکید به اراده موجود در آبادی و بازسازی افغانستان؛ اظهار داشت که انجام فعالیت‌های کوچک در عرصه‌های مختلف مانند قطرات باران، دریای خروشان را خواهد ساخت و باعث ... ص۳

د لوړو زده کړو وزارت د رهبرۍ شورا غونډه کې پر مهمو موضوعاتو بحث وشو

د لوړو زده کړو وزارت د رهبرۍ شورا غونډه د دغه وزارت د وزیر شیخ الحدیث مولوي نداء محمد ندیم په مشرۍ ترسره شوه. د غونډې په پیل کې ښاغلي ندیم د وزارت مسئولینو ته په چارو کې په اخلاص، تقوا، همغږۍ، د مسئولیت په احساس، دندې ته پر پابندۍ، خلکو ته د دین رسولو او د مسئولیتونو د سم ادا کولو په اړه اړینې توصیې وکړې. محترم ندیم وویل: «الله پاک هر مسئول ته د خدمت موقع ورکړې ده، نو د مسئولیتونو ښه ترسره کول او خلکو ته په اخلاص خدمت کول د هر مسئول اساسي دنده ده.» ده ټینګار ... ۳مخ

والی هرات خواستار گسترش تجارت و سرمایه‌گذاری میان افغانستان و ترکیه شد

جنرال قنسول ترکیه همراه با رئیس دفتر تیکا در هرات با شیخ مولانا اسلام‌جار والی هرات دیدار و گفتگو کرد. در این دیدار محترم تزجان قاضی‌اوغلو جنرال قنسول ترکیه و محترم کورشات اوزدمیر رئیس دفتر تیکا از هرات به‌عنوان شهری با پیشینه و جغرافیای تاریخی یاد کرد و از تلاش‌ها برای گسترش روابط دوستانه ترکیه با افغانستان و همکاری‌های بیشتر با اداره محلی هرات اطمینان داد. شیخ مولانا اسلام‌جار والی هرات ضمن قدردانی از همکاری‌های ترکیه با افغانستان بر گسترش و تحکیم روابط دوجانبه دربخش‌های تجارتی، اقتصادی وسرمایه‌گذاری تأکید کرد وخواهان افزایش همکاری‌ها وتسهیل بیشتر روند تجارت میان دو کشور شد وابراز امیدواری نمود که این همکاری‌ها بیش ازپیش توسعه یابد.



د کورنیو چارو وزیر د پکتیا د وروستي برید له زیانمنو کورنیو سره د ملاتړ ژمنه وکړه

د کورنیو چارو وزیر خلیفه سراج‌الدین حقاني، په پکتیا کې د پاکستان د پوځي رژیم، د وروستي برید د قربانیانو له کورنیو سره لیدنه کړې ده. د کورنیو چارو وزارت وایي، چې په دې لیدنه کې خلیفه سراج‌الدین حقاني، د پکتیا ولایت د څمکنیو ولسوالۍ د هغې سیمې کورنیو ته تسلیت ویلی، چې د پاکستان پوځ د وروستي برید له امله پکې ګڼ شمېر عام هېوادوال شهیدان او ټپیان شوي وو. د یادې غمیزې د قربانیانو د کورنۍ ... ۳مخ

میرویس روغتون کې د طبي اکسیجن د تولید نوې فابریکه پرانیستل‌شوه

په افغانستان کې د ملګرو ملتونو د ماشومانو د ملاتړ صندوق (یونیسف) استازي، تاج‌الدین اویوالي، په خپله ایکس پاڼه په لیکلي بیان کې ویلي چې د کندهار په میرویس روغتون کې د طبي اکسیجن د تولید یوه نوې فابریکه پرانیستل شوې ده. نوموړي ... ۳مخ

لغمان کې د سیاحتي شرکتونو له مسئولینو سره د همغږۍ غونډه ترسره شوه

د لغمان د اطلاعاتو او فرهنګ ریاست مسئولینو د دې ولایت د سیاحتي شرکتونو اتحادیې له مسئولینو سره د همغږۍ ناسته وکړه او د سیاحتي شرکتونو اړوندې ستونزې او وړاندیزونه یې واورېدل. د لغمان د فرهنګ او ګرځندوی آمر داد څرګند کړ، چې یادې ستونزې به حل او وړاندیزونو ته به رسېدنه وشي، نوموړي زیاته کړه: کوم سیاحتي شرکتونه چې د فعالیت جواز نه لري، خپل کاري جواز دې ترلاسه کړي، ځکه له جواز ... ۳مخ

بغلان کې د پنځه میلیونو افغانیو په لګښت د فوټسال لوبغالی جوړ شو

د بغلان ولایت د پلخمري ښار د باغ قهوه خانې په سیمه کې د ۵ میلیونو افغانیو په لګښت د فوټسال یو معیاري لوبغالی جوړ او ګټې اخیستنې ته وسپارل شو. د بغلان د بدني روزنې او ورزش آمر ملا شاه ولي غفاري باختراطلاعاتي اژانس ته وویل، چې د دغه لوبغالي د جوړولو لګښت د بغلان ولایت د یوه خصوصي پانګوال مجنون خان له لوري ورکړل ... ۳مخ

هند له راستنو شویو هېوادوالو سره د خېمو مرسته وکړه

د مهاجرینو او راستنېدونکو چارو وزارت خبر ورکړی، چې له افغانستان سره د مرستو پر دوام د هند سفارت له دغه وزارت سره د راستنېدونکو د لومړیو اړتیاوو د پوره کولو په موخه د شاوخوا ۲۲ میلیونه ۶۰۵ زره افغانیو په ارزښت د ۱۵۰۰ خېمو مرسته وکړه. یاد وزارت په یوه خبرپاڼه کې د دغو مرستو له کبله مننه کړې او ویلي یې دي، چې دغه خېمې به له اړزونې وروسته په عادلانه ډول مستحقو راستنو شویو کورنیو ته وویشل شي. همدارنګه یاد وزارت له ټولو هغو مرستندویو هېوادونو او موسسو څخه، چې له زیانمنو کورنیو او راستنېدونکو سره مرستې کوي، مننه وکړه او د ورته مرستو د دوام هیله یې څرګنده کړه، تر څو د راستنېدونکو کورنیو د ژوند په ښه والي کې مرسته وکړي.